مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ژباړن: رنا ګل اریوبزی
۲۰۲۲/۱۲/۰۵

# بزګر او سلطان محمود

یو وخت او یا هیڅ وخت .....کله چې چا ن لا په واښو کې پروت و... په دې وخت کې یو پاچا ژوند کا وه او سلطان محمود نو میده. داسلطان محمود، کله چې داوړي په یوه ورځ په چکر وتلی و، په یوه پراخ میدان کې د ناک د یوې ونې لاندې وغزید. ده یو هغه ناک وخوړ چې دونې نه په مځکه را لویدلی و. بیا یې د ناک ونې خاوند راوغوښت او ورته ویې و یل چې: « ما ستا د ناکوڅخه یوه دانه ناک وخوړ، دا راته وبخښه... که کوم وخت دڅه کار له پاره استانبول ته راغلې، نوزما لید و ته راشه.! کله چې دسلطان محمود پوښتنه وکړې، نو هر څوک به مې پته درته وښيي.»

وخت تیریده او راتیریده، د دې بزګر دیوه بل بزګر سره د مځکې په سر دعوه شوه. دعوه یې دهغه ځای په محکمه کې، چرته چې اوسیده، بایلوده. خو دی په دې عقیده وه چې حق د ده په پلو دی، نوځکه دمحکمې حکم ډ یر خواشینی کړ. هرې خوا یې ډیرې هلې ځلې وکړې ترڅوچې موضوع سمه حل کړي، خو خپل حق یې تر لاسه نه شو کړی. په دې وخت کې یې میرمنې ورته و ویل چې:« زه به یوه ټوکرۍ ناک راټول کړم، ته به یې سلطان محمود ته ورورې، هغه به زموږ حق ته پام لرنه وکړي.»

بزګر دخپلې میرمنې خبره ومنله، استانبول ته ولاړاو هلته یې له هر چا د سلطان محمود پوښتنه کوله او د پاچا د قصر پته یې ولګوله. سلطان محمود دبزګر تود هر کلی وکړ. تر هرکلې وروسته، بیا دیوه خواړه مجلس نه وروسته او ور پسې دخوندورې ډوډۍ د خوړلو نه وروسته د پاچا په امر بزګر ته یوه ښکلې کوټه او ارامه بستره ورکړ شوې.

په شپه کې بزګر مجبور شو چې یو ځل د بانې و وزي. په دې کې یې ډیرې دروازې خلاصې کړې او وتړلې، د خپل ځای نه لرې لاړ، لار یې غلطه کړه..... اوبالاخره د ساتونکو سره مخامخ شو. ساتونکو ترې وپوښتل چې دی څوک دی او د لته څه غواړي. بزګر نه شو ویلی چې په څه پسې ګرځي. ساتونکو و ویل چې:« دا سړی ارو مرو یو جاسوس دی.» او دزندان یوې کوټې ته یې ور واچا وه. درې کلونه تیرشول چې یوه ورځ پاچا هغه بزګر بیرته په یاد شو چې ده ته یې یوه ټوکرۍ ناک راوړې ووا نوکرانو ته یې امر وکړ چې ویې لټوي. کله چې خبر شو چې بزګر په زندان کې پرت و، نوډیر خواشینې شواوویې پوښته چې:« څه شی غواړې؟»

بز ګر ورته و ویل چې:« ای زما پاچا ! زه له تا یو تبر غواړم ، یوه رسۍاو یو قرآن کریم.»پاچا غوښتل پوه شي چې بزګر دادرې شیان د څه له پاره غواړي.بزګر ورته و ویل چې:« په تبر هغه ونه غوڅوم چې ته ترې لاندې غځید لی وې، په رسۍ خپله میر من د دې له پاره زندۍ کوم چې د یوې ټوکرۍ ناکو سره تا ته در ولیږلم او په قرآن کریم قسم خورم چې بیا به دسلطان محمود په نامه د هیڅ انسان سره ستړې مشي ونه کړم. د بزګر دا خبرې د پاچا ډ یرې خوښې شوې، د سرو زرو نه ډک یو بکس یې ورکړ او نیکمرغي یې ورته وغوښته.

Quelle: Pertev Naili Boratav, Türkische Volksmärchen, Berlin 1967, München 1990


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ